**په تنګلاسۍ او نعمت کې ابتلا**




**﴿فَأَمَّا الْإِنسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَكْرَمَنِ  وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ ﴾**

**[الفجر:15-16]**

ژباړه: خو د انسان حالت داسې دی، چې کله یې رب په ازماېښت کې واچوي او ورته عزت او نعمت ورکړي، نو وایي: زما رب زه(چې د نعمت ارزښت مې درلود) د عزت خاوند کړم او که یې په ازماېښت کې واچوي او رزق یې پرې تنګ کړ، نو وایي: زما رب زه ذلیل کړم.

**فَأَمَّا الْإِنسَانُ** خو انسان، انسان څرنګه دی؟ **إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ** کله یې چې پروردګار ابتلا کړي ـ «**ابتلاء**» د افشا سازۍ، د فرد د باطن د څرګندولو  او په فارسي کې له امتحان او ازموینې سره معادله معنا لري ـ الله سبحانه و تعالی،  انسان له کومې لارې ابتلا *کوي؟*

**فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَهُ.** *«اکرمه» یعنې خونبوي یې  او  نعمت ورکوي ـ «اِکرام» یعنې احترام او «تنعیم» یعنې نعمت ښنبل ـ د بېلګې په توګه: استعداد او زیرکتیا ورکوي، یا واک او مقام تر لاسه کوي، یا ثروت او شتمني پیدا کوي، کله چې کرامت، مقام، احترام، شتمني او هوساینه ومومي؛ نو*  **فَيَقُولُ رَبِّى أَكْرَمَنِ.** فکر کوي، چې ارزښت او وړتیا یې درلوده، چې نعمتونه یې په برخه شول. په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی وایي: موږ په دغو نعمتونو او اکرام سره هغه ابتلا کوو یا هغه څه یې چې په زړه او باطن کې دي، ورته پر مخ کوو او افشا کوو یې.

او بر عکس: **وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ** او کله یې چې بل ډول ابتلا کړي. **فَقَدَرَ عَلَيهِ رِزْقَهُ** نو رزق یې دومره پرې تنګ کړي، **فَيَقُولُ رَبِّى أَهَانَنِ** هغه وخت بیا وایي: پروردګار مې خوار او ذلیل کړم. **اهانن** له *«هون» څخه اخیستل شوی او «توهین» او «اهانت» هم له دغې ریښې څخه دي. ټولې دغه کلمې د خوارۍ، ذلت او  بې پتۍ په معنی دي.*

انسان عجیب حالت لري، کله چې الله سبحانه وتعالی ورته نعمت ورکړي، وايي: الله ما سره محبت لري او زه ورته نږدې يم. يا په دې دليل چې ځانګړی انسان دی يا له ځانګړې قبيلې، نژاد او قوم څخه دی، نو ځکه الله ورته ډېر نعمتونه ورکړي دي. خو که لږ يې د ژوند وضعيت بد شي، وايي: الله ما سره محبت نه لري. په داسې حال کې چې الله سبحانه و تعالی په نعمت او فقر، په لږوالي او زياتوالي، په استعداد او بې استعدادۍ، په دنده او بې کارۍ، په قدرت او عزلت، په خوښۍ او غم، انسان ابتلا کوي او اصلي څېره يې بربنډوي او له دغو څخه يو هم د وياړ او حقارت لامل نه دي.

په حقيقت کې د الله سبحانه و تعالی محبت په دنيا کې د بنده له موقف او مقام، له شتمني او ماديات سره تړاو نه لري. دغه ټول حالتونه يوازې امتحان او د افشا کولو يوه پروسه ده. الله هر څوک په ځانګړې تګلاره امتحانوي. د بېلګې په توګه: چا ته شتمني يا سياسي قدرت يا په ټولنه کې موقف ورکوي، چې څرنګه ترې ګټه اخلي: ايا له قدرت او ثروت سره لېونی کېږي او ځان بايلي او د قدرت او موقف د نه لاسته ورکولو لپاره، خپل ايمان او ارزښتونه پر باطل پلوري او د خلکو پر وينو تجارت او سياست کوي؟ يا برعکس، خپل قدرت او مقام له باطل سره په مبارزه کې او د الله د دين د قايمولو او د خلکو د خدمت لپاره استفاده کوي او د خپل اخرت لپاره ترې ګټه اخلي. په مقابل کې، پر هغه رزق او سرمايه تنګوي، چې ځان بايلي او له حرامو لارو څخه خپل رزق او پانګه غواړي او د يو موټي پيسو يا د يو بې ارزښته مقام د لاسته راوړلو لپاره د اسلام سرې کرښې تر پښو لاندې کوي او خپل ځان، ايمان، ارزښتونه او عزت پر باطل پلوري؟!

که څه هم د دغو ټولو پروسو او مسلو پايلې لا له وړاندې الله سبحانه و تعالی ته جوتې دي؛ خو دغه ميکانيزم يې د دې لپاره جوړ کړی، چې زموږ ذات او اصلي حالت موږ او نورو ته افشا کړي، چې موږ به د دغو اعمالو د ترسره کولو په لړۍ سره يا جنت ته ځو او يا به هم د دوزخ په سوځونکي اور کې سوځو، تر څو په اخرت کې بنده په خپل جنتي او دوزخي حالت، پخپله قضاوت او قناعت وکړي.

په قران کې د «ص» په سورت کې په پر له پسې د دوو پيغمبرانو کېسه راغلې ده: يو د سليمان عليه‌السلام او بل د ايوب عليه‌السلام. الله سبحانه و تعالی حضرت سليمان عليه‌السلام ته بې نظيره حکومت او قدرت ورکړی و، ان تر دې چې بادونه او خورا ستر پېريان(جنيات) يې تر امر لاندې وو. خو ايوب عليه‌السلام هېڅ قدرت او حکومت نه درلود او هر څه ترې واخيستل شول؛ کور، ژوند، مال، اولادونه او ان روغتيا يې هم له لاسه ورکړه.

در اين حالت، اگر کسی بپرسد کدام يکی از اين دو امتحان را ترجيح می‌دهيد، چه جوابی خواهيد داد؟ بدون شک بسياری‌ها جواب اولی را انتخاب خواهند کرد. درحالی‌که اولی دشوارتر است. انسان در شرايط رفاه و راحتی در صورتی‌که مفاهيم اسلامی چراغ راه زندگی‌اش نباشد خودش را گم می‌کند و از شريعت الله سبحانه و تعالی غافل می‌گردد. به همين دليل تقدم امتحان بر نعمت (در آيه 15) بر امتحان با فقر (در آيه 16) اهميت و سخت‌تر بودن اولی است.

په داسې حالت کې که له چا څخه وپوښتې چې له دغو دوو امتحانونو څخه کوم يو خوښوې، څه ځواب به درکړي؟

له شک پرته چې ډېری به لومړی ځواب وټاکي. په داسې حال کې چې لومړی يې سخت دی. که چېرې انسان د هوساينې په وخت کې اسلامي مفاهيم ونه لري، نو لار ورکی کېږي او د الله سبحانه وتعالی له شريعت څخه غافلېږي. په همدې دليل (۱۵م ايت) چې په نعمت او (۱۶ام ايت) چې په فقر امتحان دی، سخت او د ارزښت له اړخه لومړی دی.

همدا اوس په افغانستان کې ډېری داسې کسان پېژنو، چې د جهاد – د سختيو ، ستونزو او خطرونو په دوران کې پر شريعت پابند او معتقد کسان وو. له هر څه به يې له کفر سره مبارزې ته ترجيح ورکوله او دنيوي، سياسي او ټولنيز موقف او پانګې ورته هېڅ ارزښت نه درلود، د غير اسلامي نظامونو او

مفکورو پر وراندې یې تر وروستۍ سلګۍ مبارزه کوله؛ خو دا چې امکانات او څو میلیونه ډالره یې پیدا کړل، وضعیت یې څه ډول شو؟ په فکري او مبارزاتي خط کې یې څه ډول بدلونونه راغلل. خپله تېره مبارزه یې هېره کړه، له اخرته ورته دنیا خوږه شوه او د حق ډګر یې د بې ارزښته موقتي مقام، او څو میلیونه کاغذونو لپاره باطل ته پرېښود. نو د نعمت په حالت کې امتحان ډېر سخت دی.

سلیمان علیه السلام به تل ویل: **هَذَا مِن فَضْلِ رَبِّی** دغه فضیلتونه مې پروردګار را کړي، **لِيَبْلُوَنِی أَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ** تر څو مې امتحان کړي، چې ایا زه یو شکرګزار او که ناشکره بنده یم؟. ویل به یې: یا الله ما ته الهام وکړه، چې د نعمتونو شکر دې ادا کړم، او پوه شم چې څنګه ترې استفاده وکړم. **رَبِّ أَوْزِعْنِی أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِی أَنْعَمْتَ عَلَی وَعَلَی وَالِدَی** [احقّاف:۴٦] او ښیي چې څومره د حق امر ته تسلیم دی. هغه د الوتونکو او مېږیانو په ژبه پوهېده، او بې نظیره واک یې درلود، حتی باد یې تر امر لاندې وه، خو هېڅکله یې خپله بنده ګي نه هېروله او د الله سبحانه و تعالی له یاده نه غافلېده.

همداسې ایوب علیه السلام. هغه ټولې سختۍ او مصیبتونه زغمل، خو هېڅ کله به د خپل پروردګار له رحمته نه منکرېده. او صبر به یې کولو. تر هغه چې الله سبحانه و تعالی یې په حق کې وایې: **نِعْمَ الْعَبْدُ عجب** ښه بنده دی! **إِنَّهُ أَوَّابٌ** او الله ته رجوع کوي.

په پایله کې، نه فقر او نه عزلت د اهانت نښه ده، نه دارایي، نه سیاسي واک درلودل او نه ټولنیز موقف د کرامت نښه ده؛ بلکې دواړه د امتحان وسیلې دي. نو د نعمتونو په وخت کې باید تکبر او غرور ونه کړو او نه د مصیبتونو په وخت کې ناهیلې او مایوسه شو. که د انسان ژوند پر اسلامي مفاهیمو ولاړ نه وي او داسې روښنایي یې د ژوند په کړلېچونو کې لارښوونه ونه کړي، انسان په دې دواړو حالتونو کې طغیان او فساد کوي. نو د یوه مومن کلک او سم موقف داسې وي، چې د نعمت په حالت کې شکر کوي او له خپلې شتمنۍ څخه د خیر په لاره کې ګټه اخلي او د مصیبت په وخت کې صبر کوي. الحق، چې د شاکرینو او صابرینو ځای د جنت ستر باغونه دي، چې پراخوالی یې له ځمکې او اسمان سره برابر دی.

**لیکوال: مصدق سهاک**

**۲۰۱۷م، د نومبر ۲۰مه**

**ژباړن: علي عمار**